شعارونو په نسبت څومره تعهد درلود، د مبارزی د دوران د شعارونو په نسبت مونږ څومره تن التزام لرو ، په موږ کی څومره کفایت او اهلیت شته چی هغه آرمانونه ترسره کړو ، خپل اهداف متحقق کړو ، اسلامی نظام جوړکړو د کوم نظام لپاره چی زمونږ ولس یونیم میلیون شهیدان ورکړی د (۱٤) کلنی طولانی جگړی کړاوونه ئی گاللی ، شپږمیلونه د ملك نه بهرمهاجرشوی او لو ی شمیر په داخل کی مهاجرشوی کلی کورونه ئی وران شوي ، د هجرت امکانات ئی نه درلودل په خپل ملك کی کامیاب شوی ، ا وکه ناکام وی نو واقعیت دا دی چی زمونږ انقلاب ناکام شو او زمونږ قربانی هدرتللی ،قربانی هدرنه ځی قربانی د خدای (ج) په نزد خوندی اومصئونه وی الله (ج) دهیچا اجرنه ضایع کوی ، ممکن نه دی چی د خدای (ج) په لاره کی دی وینی توی شی او هغه دی هدرولاړی شی، په دی موباوردی ، چی د هرچا قربانی د خدای (ج) په نزدخوندی ا و مصئونه ده خو که دغه مسولین چی نن د ملك واك د هغوی په لاس کی د ی، هغوی ناکام شول ، ددوی له لاری زمونږ دولس هیلی ترسره نشوی له اسلامی نظام نه چی زمونږ ملت کومه توقع لری او اسلامی امت کوم انتظار لری دا توقع او انتظار ترسره نشو ، ددی معنی دا ده چی دا انقلاب ناکام شوی ، د انقلاب کامیابی او ناکامی صرف په دی پوری مربوط نه دی چی موږ خپل مخالف رژیم نسکورکړ. ملك مو آزاد کړ د انقلاب کامیابی په دی پوری مربوطه ده چی موږ څنگه کولای شو واقعاً هغه آرمان ترسره کړو چی د کوم لپاره زمونږ ملت قربانی ور کړی او دومره اوږدجهاد شوی په تاریخ کي د هغه کم مثال موندلی شی ، له دی نه تاسو دخپل کار په اهمیت ښه پوهیدلی شی، د انقلاب کامیابی او ناکامی په تاسو او ستاسو په اجراتو پوری مربوطه ده ، موږ څومهم وظایف لرو ، لمړی خبره دا ده چی زمونږ اداره د خلکو سره په خپل برخورد کی باید د سابقه ادارو سره پوره او اساسی فرق ولری ، له دی نه بعد زمونږ مسولین له عام ولس سره هغه برخورد ونکړي چی تیرومفسدو اداروکولو. هیڅوك باید دا گمان ونکړی چی په اداری کی د مسؤل په حیث هغه د دی حق لری چی له ولس سره دخلکو د آقا او بادار په حیث برخورد وکړی ، د اسلامی نظام لمړی ښوونه همدغه ده ، خلك برابردی ، هیڅوك حق نه لری چی نور حقیروشمیری اوځان ترنورو نه اوچت وگڼی ، نه د اداری د مسؤل په حیث د خلکو آقا او بادار نه ئی تاکل شو ی بلکه پیغمبر علیه السلام فرمائي چی« رئیس القوم خادمهم » د قوم رئیس د هغوی خادم دی او دا باید زمونږ د اوسني اسلامی نظام د اداری او د تیرو مفسدُغیر اسلامی نظامونو د ادارو ترمینځ اساسی تفاوت وی ، زه د حکومت له ماموریّنو نه همدا توقع لرم چی له د ی نه بعد به نور دخپل ولس د خدمتگارانو په حیث د هغوی سره برخورد کوی ، له هغوی سره په راکړه ورکړه او روش کی باید هیڅوك دااحساس ونکړی چي موږ تر هغوی نه ځان لوړ او اوچت گڼو او هغوی حقیرشمیرو،زه اوته په واقعیت کی د هغوی خدمت گذاریو اوعملاً باید داثابت کړو چی موږ د هغوی په خدمت کی یو ، په هغوی لوئی نه کوو ، ځان ترهغوي ستر او اوچت نه گڼو، باید زمونږ برخورد له خلکو سره په ورین تندی وی، د وروری په فضاکی ، او دخلکو کار باید دهر نوع ځنډ اوتاخیرنه پرته په خپل وخت کی ترسره شی ، زمو نږ مسولین باید داحرام وگڼي چي د مراجعه کونکو کار دی د شرعی او قانونی دلیل او مجوزنه پرته بی جهته

> الحمدلله زمونږ د کابینی لمړی فیصله همداوه ، ټول هغه جائیدادونه چي د اشخاصو مسلحودلو د دولت د اداراتو په ذریعه د اصلی مالك اوخاوند له اجازی نه پرته اشغال شوی باید فوراً او د هرنوع ځنډ اوتاخیرنه پرته تخلیه شی .

وځنډیږی او دهغه په اجراکی دی تأخیر راشي. له دی نه بعد باید زمونږ په ادارو کی رشوت او سفارش په مطلق ډول ختم وی ،او دا باید زمونږ مسلمان مامورین حرام وگڼی چی هغه دي د سفارش او د رشوت په وجه د چا کار

ترسره کړی او د چا په کار کی دی ځنډ راولی، د اسلامی نظام په اداری کی چی کوم شی نشی زغمل کیدلی هغه همدا ده چی مامور دی په رشوت کی آلوده شی ، زمونږ اداره باید له دی فساد نه په کامل طور پاکه وي ، زه تر څوچی د دی اداری مسؤل یم د حکومت په راس کی یم او صدراعظم یم زما لمړی کار دا دی چي زه به اداره له رشوت نه پاکوم زه رشوت خورمامور نشم منلی ، موږ دا جهاد د دی لپاره کړی، هجرتونه مو ددی لپاره گاللی ، زندانونوته د د ی لپاره تللی یو ، د پلار ورونو ، ملگرو ، همسنگرانو ، شهادتونه مو د همدی لپاره گاللی ، د جهاد ، دسنگرونو کړاونه مو دهمدی لپاره گاللی چی اسلامی نمونه نظام به جوړوو . د «حاضرینود تکبیرنعری » ولس ته باید موږ اطمینان ورکړو چی په اسلامی اداراتو کی رشوت نشته ، په عامه توگه په کوڅه ا وبازار کی باید هیڅوك داخبره ونکړی چي د رشوت او سفارش نه پرته په اداراتو کی کارنه ترسره کیږ ی، بی جهته، او بی مورده د چاکارځنډیدلی دی ، زما له ټولو ورونو نه خواهش همدغه دي ، زه باور لرم چي تاسو هریو همدا غواړي ، اداره باید له رشوت نه پاکه کړو ، ادارات باید له رشوت خورو ، خائنو عناصرو نه پاك اوتصفیه کړو، یو اسلامی نمونه اداره باید جوړه کړو چی د خلکو [illegible] نهست له خدای (ج) نه ویریږی ، د آخرت د محاسبی نه ئی ویره ده ، په خپل قوم ترحم لری ا وغواړی چی دقوم دخادم په حیث عمل وکړی او دا الهی عبادت گڼی ، چوکی او مقام د اسلام له نظره امتیاز نه دی ، دا امتحان دی، دا یو امانت دی، دا د الله (ج) عبادت دی ، موږ غواړو له دی لاری د خدای (ج) عبادت وکړو ، د هغه د بندگانو خدمت وکړو ، موږ دا عبادت گڼو او دا یو الهی امانت گڼو ، له ټولو وزیرصاحبانو نه چي په هغومی باوردي ، لاندی مامورینو او مسؤلینونه زه دا ډه اومطمئن یم چي ان شاالله زمونږ مرسته به کوی چي موږاجتماع ته یونمونه اسلامی حکومت وراندی کړو، په کوم کی چی هیڅوك ددی تشویش ونکړی چی دلته سفارش چلیږی ، رشوت چلیږی ، او دخلکو کارونه سفارش او رشو ت نه پرته نشی ترسره کیدلای ،دوهمه مهمه ا واساسی خبره دا ده چي نظام اوحکومت د خلکو او دبیت المال د مایملك ساتونکی او پاسداران دی، نظام د خلکو د سراو مال د آبرو او د عزت او د انسانی حقوقو ساتونکی وی ، موږبه حق ، حقدارته سپارو ، موږ به د مظلوم ملگرتیاکوو، زمونږ په نظام کی به مظلوم ځان ضعیف نه گڼی ، بلکه په دی به داډه وی چی ټول نظام دهغه ترشاولاړدی زمونږ په نظام کی که څوك ویره لری هغه به ظالم اومجرم وی ، هغه به لدی څخه ویریږی چي ټول نظام ئی

پاتی «۲» مخ «۳» کالم

چی کشوز دافغانانو معطرکا
دهربیت مصراع می زلفی د خوبان کړی

رحمان بابا

> د خپل درانه استاد د شپتمی کالیزی په ویاړ
>
> په پرهرونو کی دی میتی ئـن گـرم پـسـرلی
>
> له څاڅکو څاڅکو نه یی تاته جوړوم پسرلی
>
> د ژونـد د ټـولو پسرلو بلا دی ووم پرتندی
>
> خو پـه لیمـو به دی لمانځمه داشپتم پسرلی
>
> ازمون

له قبره راووتم

حفیظ الله .س . تراب

لنډه کیسه

له مرگه هرڅوك ویریږی . دهر ژوندی بد ایسی ، او که داسی نه وای نو موسی «ع» به عزرائیل «ع» په کلکه څپیړه نه واهه . زه هم پوهیدم چی له دپیښی تیښته نشته ، خو چی څومره به می زړه ته داو ورکړ نو خپل بوازینی ارمان به می له مرگه زړه لا پسی تور کړ . هغه ارمان چی زما داولس دډیرو خلکو ارمان ؤ ،او که زما په ژوند پوره شوی وای نو دپښتون خوندی به می بیا مرگ ته ویلی وای چی دا زه او دا... خو افسوس،څومره چی ما تری ځان ساته قسمت دمرگ گومی ته پخپله وروستم ،کابل ته ولاړم ،ماچی به دهغه ښار هرځای ته کتل نود حال په ژبه به بی مرگ ته بللم ، په زړه کی می وگرځیدل هسی ته چی دا می داجل تاتوبی شی ، همداسی وشوه ،زما وسوسه رښتیا شوه . دوه گـامـه وراندی لا نـه وم تللی چی یوسخت کرنگ شو ،په یو رانده توغندی ولگیدم ،زما دواړه پښی هغه چی دروسانو سره دجهاد په وخت کی بی ډیری وړونکی لاری لنډی کړی وی بیگناه ټوټی ټوټی شوی . لږ شیبه کی په خپلووینوکی دخپل افغان له لاسه مرگونی پریوتم ، ما هیڅ خبره نه شوه کولای . خوهغه سپیڅلی ارمان می لا په زړه کی لیك ؤ ،وروسته خلکو روغتون ته یووړم ،دداکترانوله خبرو څخه می بوای داغږ واوریدی:مړدی ، زما پر زړه بی انتهیا سخته وه . څوځله می زړه کوښښ وکړ چی څه ووایی خوشوندو ونه ویل چی زه ژوندی یم .ماله پیله خبری نه شوی کولای څوکله کله می څه اوریدلای شو . دداکترانو په خبره خلکو زما ښخولو ته مټی راونغښتی . په دی وخت کی یوخدای زما په غم پوهیده ،دوهم ځل می هڅه وکړه چی خلکو ته ووایم چی زه ژوندی یم ،خو دریغه زما ټول بدن را سره بیوفایی وکړه . یوځای می دذړی هومره هم و نه ښوریده . له دی وروسته داسی ډیری واخیستم چی په ژوندینی ترې هم ما امان غوښت، دقهر غم می هیر شو . زما دځان غسل نه خوښیده . مابه له روسانو اوکمونستانو سره په جهاد کی له خدایه داسوال کاؤ چی خدایه شهید می کړی . زما له شهادت سره مینه په دی وه چی شهید به خلکو له جامو سره ښخاؤ . زما پرینیدل نه خوښیدل . دی ویری زما دقهر دښخولو ویره هیره کړه . زمـــا پرزړه لا دهمدی غم لړه خپره وه چی یو سپین ږیری وویل : وخبری بی نه دی کړی غسل مه ورکوی ، شهید دی » له سپین ږیری ډیرخوشحاله شوم . ترلمانځه وروسته یی په لحد کی کیښودم ، دلحد دتیږواولرگو پرځای می داسی آوازواورید لکه دهغویه بدل کی چی راباندی دکباړ اوسپینیز شیبان ږدی .څـکـه زه چـی لا ژوندی وم تـــریـــه ډیروخایونوکی دځنگلونودچور له کبله دمروشناختوته لرگی نه پیدا کیدل . لحد بند شو اوچی کله یی را باندی یوځه خاوری راواړولی نوهغه سپیڅلی ارمان می بوځل بیا را یاد شو . زړه می په آخری ځل پسی وړل اوله دی سره یلی دنیا ته لاړم . اسمانی پوښتونکی په ډیره ښه ښه راغلل . زما ازموینه ډیره ښه تیره شوه . دهغوی تر

پاتی «٤» مخ «۷» کالم

دلکه باد ورمی

چلوونکی: محمدآصف (صمیم)

ناول

داستانونه دیوخاص وخت اوزمان پیداواروو کله چی تاریخ په خپل اوږده جریان کی دغه وخت شاته پریښود ، نو د هغه سره سم داستانونه هم ددغه بزم څخه رخصت شول . څرنگه چی کیسی ویل دانسان په فطرت کی داخلی دی ، نو دلته دا سوال پیداکیږی چی ښه نو د داستانونو دمنځه تلو سره چی کومه خلا پیدا شوه ، هغه څه شی ډکه کړه .

دداستانونو اواز په هوا چورلیده چی یوه ادبی نوی نوعه لکه چی دنوم نه یی څرگندیږی ناول رامنځ ته شو. ناول دنوی اواوسنی وخت پیداوار دی ،نن په نړی کی داوب دغـه نـوعـه ډیـرزیـات خوښوونکی لری .

دصنعتی ژوند دپیل کیدوسره سم انسانانو د دیوانو ، پیریانو اوپادشاهانوپه برخه کی دفکر کولو په ځای خپله زیاته پاملرنه په خپله انسانانو ته واړوله. داځکه چی دانسان حیثیت په دغه نړی کی ډیر زیات اهمیت پیاموند . دپلی خوانه په ژوند کی ډیر فراغت اوزیات وخت درلودل هم مخ پرختمیدو شو. دغه وخت د انسان دژوند دژیاتوضروریاتونو سره سم دهغه کارونه هم زیات شول ، انسان پخوا یوازی دژوند په زراعتی کارونو بوخت ؤ اوداستان ویلو اولوستلو ته یی زیات وخت درلود ولی دصنعتی ژوند دپیل کیدو سره سم د داستان ویلو فرصت نور چاته پاتی نه شو ، همغه ؤ چی دداستان ځای ناول وتیوناول دوخت اوزمان ترجمانی وکړه .

ناول دحقیقتونو ترجمانی کوی ، او دهغو تفسیر وراندی کوی . په ناول کی دژوندحقایق پسرلیندیږی اود داسی واقعاتوذکر په کی وی چی هغه په ورځنی ژوند کی پیښیږی او قیاس ته ډیر نژدی معلومیږی،دهمدی کبله ناول دحقیقت لیکنی مظهر دی .

اوس راشی چی دناول په لرگی په دی فسکروکسرو چسی ناول لیکونکی خپله موضوع په څه دول وراند ی گوی . ترتولو دمخه ناول لیکونکی ته په دی پوهیدل په کار دی چی دی دفلسفی ، اقتصاد ، سیاست اودساینسی علوموکتاب نه لیکی بلکه ناول لیکی ، چی لوستونکی بی په لوستلو مجبورونه دی دهمدی کبله دهغه موضوع اودموضوع وراندی کول باید خواږه اوپه زړه پوری شی . دپه زړه پوری کیدو معیار په کومه خاصه طبقه پوری باید ونه ترل شی بلکه ټول انسانان دهغه څخه باید خوند واخلی . ناول ته دژوند استعاره هم ویلی شو . لکه څرنگه چی ژوند په خپله دتاریخ په اوږدو کی دابتدایی یعنی لومړنی دوری په تیریدو سره په منځنی دوره ورگډ اودمنځنی دوری په پریښودو سره ورو ورو پر مخ ځی اودخپل هدف خواته ځان رسوی، په همدی توگه سره ناول په کیسه کی هم باید همدغه خیال وساتل شی . یعنی دهغه دکیسی پای باید دهغه دپیل څخه بیل نه وی ، بلکه دهغه دابتدا لازمی نتیجه وی، په ناول کی دتنه چی کومی پیښی وراندی کیږی ، دهغه مقصد باید داوی چی موضوع په مخ بوزی اودهغه پیښی په خپله دکیسی څخه پیدا کیږی .

راشی اوس دناول په ترکیبی اجزاوویاندی چی دناول په جوړښت کی مرسته کوی . غور وکړو، اودلته دناول په هغو ترکیبی اجزاوو باندی روښنایی واچوو ، چی دناول تعمیر اوماتی ورته جوړیږی . په ناول کی کردار ، پیښی ،دژوندنقطه نظر ، طبیعی منظری اوداسی نوری ټولی خپل خپل کار کوی . ولی دغه ټولی څه وخت چی په ناول کی څرگندیږی ، هلته نو خپلی اجزاوی په کل بدلوی اویو نوی شکل اوتوی لباس سره ښکاره شوی وی .په ناول باندی په مجموعی توگه سره پوهیدلو دپاره ضروری داده چی هغه ترکیبی اجزاوی چی دناول په جوړښت کی ورته زیات کاراخیستل کیږی په جلا جلا توگه سره ترمطالعی لاندی ونیسو . په ناول کی ددغه لاندینیو عناصرو څخه زیات کار اخیستل کیږی:

۱:- پلاټ :

پلاټ : دگرم شی پرشا وخوا چی کیسه گرځی اوراگرځی هغه ته وایی ، دپلاټ گنه داده چی په کیسه کیی بی نظمی نه راځی اوناول لیکونکی دهغه په دننه کی خپله کیسه ترتیبوی . پلاټونه څو دوله دی ، څیني پلاټونه ساده وی ، په هغو کی یوه کیسه وی ، دکیسی هرکرداردهغی په مخ ته بیولو کی مرسته کوی ،که چیری پلاټ ساده وی نودناول په پوهیدو کی په زړه پوری مرسته کوی .څیني پلاټونه پیچلی وی څکه چی دیوی کیسی پر مخ بیولو کی دډیرو دیرو دوو حکایتونو څخه مرسته اخلی . دغه حکایتونه یو دبله باطنی اړیکی سره لری اودهمدی اساس پرمخ ځی اویو له بله ترلیو روابطو له کبله یوواحد شکل اختیاروی.

په پلاټ کی وحدت اوتسلسل حتمی اوضروری دی . داوحدت په داسی توگه سره ساتل کیږی چی هرکردار ، هره پیښه اوحتی که طنز اومزاح هم وی ، هر یو دخپلی زاویی څخه دپلاټ پرخوا روښنایی اچوی . دهمدی کبله پلاټ دناول یو مهم جز دی ، دهغه څخه پرته دناول جوړښت ناممکن دی .څرنگه چی موږ دیوه کور دجوړولوپاره دځمکی یوه برخه خاصه کوو او په هغه باندی خپل تعمیرجوړوو ، په همدغه توگه سره په یوه خاص پلاټ باندی

پاتی «۲» مخ «۵» کالم

دغونچی د رباط ور په واکیدو دی
قافله درنگ وبو دومی سباشو

شیدا

> ### دزړه خواله
>
> له دی تیرو څه کم دوو لسیزو، په تیره له دی وروستیو څلورو کلونو هیسی زمونږ همدا گیله ده ، چی گران افغانستان له مادی اومدنی پلوه هم ړنگ ښنگ شو اوله معنوی پلوه هم! خوپه همدومره نو بس چی دمدنیت،ژنگی کنډوالی اوپاتی شونی می بیا هم دمعنوی زیرمو او سرچینو دشتون په صورت کی ډیر اسانه ترمیمیدای او ودانیدای شوی! بده خوداده ، چی دمعنوی شتمنیو مو هیڅ دول اوبنه پاتی نشوه ، چی عمرانی بیا رغونه مو پری وشی . یواځی علمی ،تاریخی ،کلتوری اومعنوی زیرمی، آثار اونښی نښانی مو لوټ اوتالان شوی .
>
> اوس اوس مو له ټولنیزو رسنیو (دابلاغ ذرایع) نه دوه خبره واوریده ، چی: له افغانستان نه چا لندن ته دځه کم دوه زره کالو یوه لاسکښلی نسخه وړی ده ، چی دچینار پر پوټکی کښل شوی ده اوبهرنگیانووته د رواتولواویا څلور لپاره له نیوپارك نه پوهان اوڅانگوال راغونښتی او انگل کیږی ،چی په لس کلونکی به دغه دپاڅولو چارپشپړشی .
>
> پل مو دا واوریدل ،چی د«حزب وحدت» مشر ښاغلی کریم خلیلی دباامیانو ددوو سترو بودایی بوتانو دبیخی له منځه تلو دمخنیوی لپاره دیونیسکو اونورو لرغونـاتـیو مؤسسـو پام رااړولی او په اندیښمنه یی ورته ویلی دی ، ددغو یو تاریخی اوپاڅته اوپالنه ونشی نو؛ ددی بوتانو له برکته دباامیانو لرلی تاریخی اوکلتوری دریغ او دسیلگری اوگرځندویی له پلوه ترلاسه کیدونکی گټه به له خاورو سره خاوری شی .
>
> هیله ده زمونږ ښاغلی واکمن ددغی روانی ناروا او وروروژونکی جگړی دنیامار له خولی دافغانی فرهنگ دغه ویاړلی اوگرانبیه لال په پوره فرهنگی ژمنه اوشعور راوباسی .
>
> لماځنه

> ### هیله
>
> دی یـاغی فـکـرکـی سـرور غـواړم
>
> مـوتی زرگی کی درنه طور غواړم
>
> د کهف تول ملگری سمخوتـه شـول
>
> ښار دستـم یـه لـه چاچور غواړم
>
> تولو له خضـره کتـموری غـوښتـلی
>
> چاله په دار لـکه منصـور غـواړم
>
> څواغزن پختو سره گلونه غوښتی
>
> یوپسرلی خو درنـه گـورغـواړم
>
> لـمردی یو څونیزی راکوزکه په ښـار
>
> تـور وکـودلـولـه تری نورغواړم
>
> په انتگوکی بی سرخی کمه شوه
>
> مخ د زخمونو درنـه سـورغـواړم
>
> پښتنی سترگی د کوکی می غوښتی
>
> کافردی شم ، کـه درنـه حورغواړم
>
> چی لږ په زړه کی هم ز ما غوندی وی
>
> داسـی د فـکـریو تـریـورغـواړ م
>
> داکترمحمد اکبر «اکبر»
>
> ختیزلندن

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شهادت

نمبرمسلسل (۱۱۸۲) سال نزدهم یکشنبه (۳۱) سرطان ۱۳۷۵

قیمت یك شماره (۵۰۰) افغانی (۳روپیه)

نبوی لارښوونی

له حضرت ابوهریرة (رض) نه روایت دی چی آنحضرت(ص) زه د لاسه ونیولم . راته یی وفرمایل :الله تعالی دا ځمکه د شنبی په ورځ پیدا کړه او د یکشنبی په ورځ یی پکی غرونه جوړکړل . د دوشنبی په ورځ یی ونی بوټی پیداکړی . د سه شنبی په ورځ یی ټول خراب څیزونه پیداکړل . د چارشنبی په ورځ یی نورپیداکړ . د پنجشنبي په ورځ یی پکی څاروی پیداکړل او د جمعی په ورځ یي له مازدیګرنه وروسته آدم علیه السلام پیداکړو -آخری مخلوق د ورځی په آخرکی د مازدیګراوماښام ترمنځ .

(مسلم شریف)

احکام دین خود را بیاموزیم

بیان نمازهای نفل

وقت نمازتهجد

معنی تهجد خواب را قطع کردن و بلند شدن است. درقرآن مجیدبا آن تاکیدی که درمورد تهجدشده است ، منظوراین بوده است تا درقسمتی ازشب، خواب را قطع نموده، بلندشوند ونمازبخوانند ووقت مسنون تهجداین است ، که بعدازنماز عشاء، انسان خواب شود ، وبازبعد ازنیم شب بلندگردیده و نمازبخواند. رسول اکرم (ص) گاهی نیم شب، وگاهی قبل ویابعد ازآ، ازخواب بیدارمیشدند، وبه سوی آسمان نظر نموده و چند آیت از رکوع آخرین سوره،آل عمران را میخواندند، و وضو ومسواك میکردند ، و نماز را شروع مینمودند.

رکعتهای نمازتهجد

کمترین تعداد رکعات نمازتهجد دو، وزیادترین آن هشت رکعت منقول است . ومعمولاً رسول اکرم (ص) از دو رکعت تا هشت رکعت میخواندند. بناءً بهتراین است که هشت رکعت خوانده شود . لیکن حتمی نیست ولی ازلحاظ وقت و حالات آنچه ممکن باشد، خوانده شده میتواند.

طبق احصائیه مرکز هستوی قزاقستان :

آزمایشات اتومی بیش از (۵۰۰) هزار تبعه این جمهوری را به امراض گوناگون مبتلا ساخته است

المآتا - .

اکثر باشندگان جمهوري قزاقستان یکي ازجمهوري هاي به استقلال رسیده اتحاد جماهیرشوروي سابق به اثر آزمایشات متعدد اتمي به امراض گوناگون ازجمله سرطان معده مبتلا مي باشند .

طبق احصائیه مرکز ملي هستوي قزاقستان درجریان ٤۰ سال گذشته بیش از ٤۷۰ مورد آزمایش ذروي دراین جمهوري انجام شده که قدرت انفجار آن نسبت به انفجار بم هستوي درجزیره هیروشیماي جاپان که توسط امریکا صورت گرفت،بمراتب قوي تر ومدهش تربوده است.

نورسلطان نظربایوف رئیس جمهور قزاقستان پس ازیك سلسله انتقادات وعکس العمل هاي مردم ،مرکزآزمایشات اتمي رامسدود گردانیده است .

ازپنج سال بدین سو اراضي وسیعي که قبلاً آزمایشات ذروي درآن اجرامي شد ومساحت آن (۱۸٥٤۰) کیلومترمربع تخمین مي شود بحیث زمین هاي زراعتي مورد استفاده قرارگرفته است .

مدیراداره مبارزه علیه مواد هستوي درقزاقستان مي گوید که تعداد آسیب دیدگان ناشي از آزمایشات اتمي روزبروز افزایش یافته ودرهرخانواده دویاسه کودك معیوب بدنیامي آیند.

ازسوي دیگر، وزارت صحت عامه قزاقستان اعلان داشته درچهارمنطقه اینکه ازآن بحیث آزمایشگاه هاي ذروي استفاده مي شود، تاثیرات سوء انفجارات اتمي مردم آن مناطق را آزار میدهد واکثر باشندگان مناطق مذکور به امراض سرطان معده ،جلد ، شش وخون مبتلا گردیده اند .

طبق احصائیه حکومت قزاقستان حدود پنجصد هزار نفر دراطراف منطقه «سیمي پلاتیف» آن جمهوري به امراض مذکور مصاب بوده وازآن رنج مي برند .

سازمان صحي منطقه سیمي پلاتیف مي گوید ارقام دیگرنیز وجوددارد که شمار مصیبت زدگان ناشي ازانفجارات اتمي رابیش ازیك ونیم ملیون انسان تخمین مینماید که اکثر آن هامربوط به نژاد قزاق میباشند .

داِستالف ولسوالی دخواجه حسن دمنځنی ښوونځی دبنسټ ډبره کیښودل شوه

کابل – دچنګاښ ۲۷ مه :

د استالف په ولسوالی کی د خواجه حسن د منځنی ښوونځی د بنسټ ډبره تیره ورځ د غرمی مخکی کیښودل شوه .

د کابل ټمخه د را سیدلی رپوټ په اساسی دغه ښوونځی ، چي د جوړولو لګښت ئي یو ی بهرنی‌خیریه مؤسسی او د کوهدامن اسلامی شورا په غاړه اخیستی په راتلونکی نیږدی وخت کی بشپړ شی .

د بویل خبر له مخی د کوه صافی د ولسوالی د عالمانو ، روحانیونو شورا په تومورۍ ولسوالی کی غونډه وکړه په دغه غونډه کی چی د کوه صافی ولسوالی د بیاودانولو لپاره جوړه شوی وه د کوه صافی یو تن اوسیدونکی د ولسوالی د تعمیر د بیاودانولو په خاطر څپله ځلور جریبه ځمکه د کوه صافی ولسوالی په واك کی ورکړه .

جوهردودایف رهبر مبارزان

و ما ازشما میخواهیم تمام عملیات نظامی را متوقف سازید و امنیت را برای همه اتباع فدراسیون روسیه تامین نمائید» .

درین لایحه که بصورت پیشنهادارایه شده برگزاری مذاکرات درمسکو میان آزادیخواهان و شورای امنیت روسیه که شامل افراد بلند پایه دولتی تحت ریاست یلتسن است خواسته شده است .

پیشنهاد دوما تحمیلی نبوده و یلتسن چنین پیشنهادات را معمولاً نادیده گرفته است اما درین پیشنهاد بعد از انتخاب صدر یلتسن درمقام ریاست جمهوری این کشور بتاریخ ۳ جولای ، عمیق ترین نگرانی نسبت به حوادث جاری در چیچین ابراز شده است .

دریك انکشاف دیگری ، روز پنجشنبه اعلام شد که جوهردودایف رهبر آزادیخواهان چیچین زنده است درحالیکه قبلاً گزارش شده بود که وی د ر حملات راکتی طیارات روسیه بتاریخ (۲۰) اپریل کشته شده بود . یك مقام روسی این گزارش را تکذیب کرد . سرگي سیتپاش سکرترکمیسیون روسیه در چیچین گفت که وی به قرآن سوگند میخورد و میگوید که من متیقن هستم که دودایف کشته شده است . اما مسول خدمات امنیتی فدرال روسیه به این ابهام افزود ، گفت که وی نمیتواند کشته شدن جوهردودایف را تصدیق کند.

وی گفت و مرگ شخص توسط فرد ی تصدیق می شود که جسد مرده را دیده باشد .

اولك لوروف نماینده شخصی یلتسن در چیچین به دومای روسیه گفت آزادیخواهان اکنون به (٤۰) دسته ۱۵-۲۵ نفری محدود شده اند و بقیه به دسته های گوریلایی تبدیل شده اند که شمار آنها به هزار نفرمسلح میرسد . وی افزود بحران چیچین قابل حل است . امامعاون دوما ضمن ابراز نگرانی عمیق ازحوادث چیچین بااصرار ازیلتسن خواست که رهبر مبارزان چیچین را به جلسه شورای امنیت دعوت کند و جریان جلسه ازطریق تلویزیون پخش شود . دوما در پیشنهادش خاطرنشان نموده که بعد از انتخاب مجدد یلتسن بحران چیچین عمیق تروو خیم ترشده است .

واچ سلاومیخایلوف وزیر ملیت گرا درکابینه روسیه درکنفرانس خبری گفت روسیه خواستار مذاکره بوده و هئیت این کشور ومبارزان عنقریب با هم ملاقات خواهند کرد .

امارادیف گفت وی موشك ستنگرزمین به هوا دریافت نموده و از آنها درمقابل طیارات جنگی روسیه استفاده می کند و همچنان اوآماده است جنگ بدون قاعده را آغاز نماید که درجریان این جنگ شهرها خطوط آهن و کارخانجات تسلیحات رسمی روسیه هدف حمله قرار خواهند گرفت .

یك بم که محتوي پارچه های خورد وریزه فلزات بود دریك ایستگاه ریل درشهر وورنژ کار گذاشته شده بود اما قبل ازانفجار خنثي شد ، همچنان روزجمعه میدان هوایی گروزنی پایتخت چیچین به علت اوضاع بحرانی برای مدت نامعلوم بسته شد . جنرال ولادیمیر شاماتوف قوماندان نیروهای وزارت دفاع در چیچین گفت این میدان برای مدت طولانی تا زمانی که مذاکرات میان هیئت روسیه و مبارزان ازسرگرفته شود بسته خواهد ماند .

وی افزود صرف به طیاره حامل جنرال لبد رئیس امنیت کرملین و ایگوراودیونوف وزیردفاع جدید اجازه نشست داده خواهد شد.

اعلان کانکور

به اطلاع همه فارغین لیسه های داخل وخارج کشور رسانیده میشود که ثبت نام برای امتحان کانکور به استثنای روزهای پنجشنبه وجمعه همه روزه دردفترریاست دافغانستان اسلامی پوهنتون واقع حیات آباد الی تاریخ دهم اسد ۱۳۷۵ ادامه دارد

آدرس :

(۲-۲)

حیات اباد فیز (۱) لاله زار رود E1 خانه نمبر(٤۳) .

مهاجر فدامحمد ووژل شو

پیښور - چنګاښ ۳۰ :

د پیښور په یونیورسټی ټاون کی وسله والو غلو مهاجرفدامحمد د توډو مردکیو په ډزو ووژلو. فدامحمد یوی مرستندویی موسسی په اداری چاروکی دنده درلوده . چي د حیات آباد په سیمه کی یې دفتردی ، نو موری په همدی ورځ له دندی نه د رخصتیدلو سره سم د خپل کور په لور روان و چي وسله والو غلو غوښتل لوټ ئی کړی ، خو ده د خپل ځان نه په دفاع لاس پوری کړ، غلو پر ده ډزی وکړی او نوموړی ځای پر ځای شهید شو .

عملیه واکسینا

ولایت ننگرهار ، بدون ساختمان میباشد که کار اعمار آن بزودی روی دست گرفته خواهد شد .

نامبرده افزوده است که مشکلات مردم بکمك موسسات وادارات خیریه خارجی حل شده وشورای جهادی ننگرهار همراه باکمیته صحی یونسیف دربخش تهیه مواد ولوازم طبی با ما همکاری می کنند .

موصوف علاوه کرده که درمنطقه غني خیل ولسوالی شینوار ننگرهار یك شفاخانه دارای سی ویك بستر وجود دارد که مریضان در آن مورد تداوی قرا ر می گیرند .

هم چنان در ولسوالی خرگیانی شفاخانه بیست بستری فعال بوده که در رفع مشکلات مردم سودمند واقع گردیده و دارای بخش های داخله ، اطفال وجراحي می باشد .

مسؤل امور صحی ولایات شرقی کشور گفت که دور دوم عملیه واکسیناسیون در ولایات شرقی بتاریخ ۲۱ جولای آغاز می گردد که مدت یك هفته ادامه پیدا خواهد کر د.

درعین حال به سلسله کمپاین واکسناسیون، ما کورس های تربیوی وطبی را افتتاح کرده ایم که مشتمل برعده ای زیادی از مردم منطقه می باشد .

نامبرده در اخیراضافه نموده که درمرکزطبي ولسوالی سرخرود ننگرهار ، بردم تمام ولایات افغانستان ، تعلیمات صحی آموخته می شود ومصارف این مرکز ازطرف اداره صحی جهانی و پوهنتون (لیورپول) انگلستان پرداخته می شود .

سیلاب های اخیر در چین

درعین حال صدها منزل مسکونی به اثر سرازیرشدن سیلاب ها ویران گردیده وارتباط قرای مذکور با پیکنگ پایتخت چین منقطع شده است .

نماینده جدید سازمان

گام های که در راه تشکیل یك دولت فراگیر در افغانستان برداشته شده است حمایت کند.

قابل یاد آوریست که نماینده جدید سازمان ملل درامور افغانستان قرار است بزودی وارد جلال آباد گرده و فعالیت رسمی خود را برای استقرار صلح و امنیت درافغانستان آغاز کند.

پرواز طیارات

آریانا افغان هوایی شرکت گفته است که پرواز طیارات مربوط به این شرکت بصورت منظم درهفته دومرتبه بروزهای دوشنبه و پنجشنبه صورت میگیرد و کوشش خواهد شد با رفع مشکلات ابتدایی ، مردم وتجار افغان بتوانند به این ایالت سفر نمود ه، و همچنان در داد ستد تجارتی شان استفاده نمایند .

ناربرت هول

رابطه به آزاد سازی هفت پیلوت روسی خاطرنشان ساخته که درجریان دوهفته ، آینده وارد قندهار خواهد شد تا با رهبران طالبان راجع به رهایی اسیران مذاکره و گفتگو نماید.

خبرگذاری ایتارتاس می افزاید که وزارت خارجه روسیه این گفته گروه طالبان را که گویا پیلوتان اسیر را برای مبارزان چیچن تحویل خواهد داد رد نموده آن را یکی از فریبکاری های دیگرطالبان خوانده است .

«اناتولی گالینوف » یکتن ازمقامات عالی رتبه، وزارت خارجه روسیه دراین رابطه می گوید طبیعی است آنچه مطابق میل رهبران طالبان قرار نگیرد ، به تبلیغات واقدامات دیگری متوسل مي گردند تا ازاین طریق امتیازی کسب نمایند این دیپلومات روسی افزود ، آنچه رهبران طالبان از روسیه تقاضا دارند ، قبلاً درمحضر مقامات ذیصلاح سازمان ملل متحد وکنفرانس کشورهای اسلامی ازطرف مسکو مطرح شده و حالا هیچگونه بهانه ای برای طالبان وجود ندارد .

وزرات خارجه روسیه اعلان داشته چند ماه قبل زمانیکه رهبران طالبان تعهد نمودند که هفت پیلوت اسیر را رهامی کنند .

اندری کوزیروف وزیرخارجه روسیه تصمیم گرفت تا به قندهارسفر نماید ، اما تعهد شکنی مکرر رهبران طالبان موجب مأیوسی حکومت ومردم روسیه گردیده است .

ازجانب دیگرمقامات روسیه یکی از عوامل باز دارنده رهایی اسیران روسی را اختلافات ذات البینی رهبران طالبان خوانده علاوه می کنند که درمسله آزاد سازی پیلوت ها میان رهبران طالبان وحدت نظر وجود ندار د.

وزارت خارجه مسکو تاکید دارد تا زمانیکه مسله پیلوث ها ازطریق سیاسی بصورت کامل حل نشود ، رهبران طالبان حاضربه رهایی آنان نمی باشند . زیرا آنها درگذشته بهانه ای [illegible] ها می باشد .

مورد شنیده اند .

لازم بیاد آوری است دیپلومات های روسی ،معاتات ماهوار اسیر را به خانواده های شان پرداخته و هیأت های متعدد مواد غذایی آب آشامیدنی ، نامه های دوستان و سایر اشیای ضرورت پیلوت ها را از جهمو ریت تاتارستان به قندهار انتقال می دهند.

تاجکستان مرز مشترکش

کشور نام نبرد اما آگاهان سیاسی میگویند که هدف افغانستان و ایران است .

همچنان ازتاجکستان گزارش میرسدکه در درگیری میان افراد مسلح و قوای امنیتی درنزدیکی دوشنبه پایتخت این جهموری پنج تن کشته شدند، درین گزارش که ازطریق منابع دولتی پخش شده به تلفات نیروهای دولتی اشاره نشده است .

ایران از

مختلف ذي علاقه میان افغانستان و ایران صحبت تفصیلی به عمل آمد .

سفیر ایران درکابل درحالیکه آمادگی کشور متبوعش را براي هرگونه مساعی جهت پایان یابي جنگ واعاده صلح وثبات در افغانستان اعلان داشت افزود :از تفاهمات بین الافغانی میان گروه های مختلف افغان حمایت می کند .

همچنان آقای «حدادی» در دیدارش با رئیس جمهور دولت اسلامی افغانستان خاطرنشان کرد که جمهوری اسلامی ایران تحولات و انکشافات مثبت افغانستان را بادلچسپی تعقیب نموده و درجهت خاتمه جنگ در این کشور ازهیچگونه همکاری دریغ نخواهد ورزید.

درمقابل ، استاد برهان الدین «ربانی » ازکمك ها ومساعی کشورهمسایه جمهوری اسلامی ایران درزمینه رفع مشکلات مردم افغانستان ابراز امتنان نموده ، اظهار داشت که دولت اسلامی افغانستان همیشه ،تحکیم مناسباتش با کشورهای جهان علی الخصوص ممالك همجوار ازجمله جمهوری اسلامی ایران را دراولویت قرار داده وخواستار روابط نیك وحسنه باهمه کشور ها می باشد .

دکابل ولایت

بدلونونو په هکله دهیڅ غبرونه دلنډومعلوماتوپه ترڅ کي څرګنده کړه چي دافغانستان اسلامي دولت دنده لري چي ټول جهادي قوتونه دمذاکري میز ته راوبولي اودافغانستان روانه ستونزه دخبرو اترو له لاري حل و فصل کړي .زیاته یې کړه موږته چي د هیواد په روان کړکیچن حالت کي کومي د ندي سپارل شوي دا یوالهي امانت دي موږ به ددي امانت په سرته رسولوکي له هیڅ ډول سرښندني ځان

بحران تاجکستان مسئله

دراعلامیه وزارت خارجه افغانستان تذکریه عمل آمده که علایق مردم مسلمان افغانستان وتاجکستان از ریشه هاي عمیق اسلامی تاریخی ، کلتوری وفرهنگی برخوردار بوده وباهم پیوند نیك اسلامی دارند .

اعلامیه افزوده است که جنگ راه حل قضیه تاجکستان نبوده مشکل این جهموری ، مسله داخلی وذات البینی خود تاجکان می باشد.

دراعلامیه درحالیکه موجودیت مهاجران تاجك دربرخی ولایات شمال افغانستان موقتی خوانده شده یادآوری گردیده که این عده مهاجرین پس ازحل وفصل قضیه تاجکستان ، آبرومندانه بوطن شان برخواهند گشت .

برادرحکمتیار

افغانستان گفت : همین طوریکه در گذشته ها در دوران جهاد وهجرت کمك کرده ایم اکنون که حکومت مجاهدین برسرکار میباشد درخدمت بوده حاضریم درهمه عرصه ها درحدود توان مصدرخدمت به مردم افغانستان شویم .

متعاقباً برادرحکمتیار صدراعظم کشور ضمن توضیح وارائه معلومات پیرامون مسایل مختلف از رئیس هلال الاحمر کویتي خواست دربخش خدمات طبی، مساعدت بیشتر به انستیتوت طب کابل و رساندن آب آشامیدنی به شهریان کابل و دربعضی عرصه های دیگر با دولت اسلامی افغانستان همکاری نماید.

وته زغورږو .

صدراعظم ووېل موږ غواړو چي ژرترژره په هیواد کي سوله او امنیت ټینګ اودهیواد روان بحران په سوله ایز ډول پای ته ورسېږي .

دصدراعظم له

درلوده.

دشهادت خبریال دحاجي محمد «فرید» له خولي لیکي چي محترم انجنیر مسعود کابل ته دورورو«حکمتیار» تګ په هیواد کي دسولي دعملي کیدو لپاره یو ستر پرمختګ وباله اوویې وویل چي د دزره له کومي غواړم چي موږ اودحزب وروڼه یودبل په څنګ کي ګډ ژوند وکړو .» مسعود څرګنده کړه چي غواړي ژر دهیوادله صدر اعظم وروور«حکمتیار» سره اوږده کتنه وکړي اوداو ورکوي چي ټول وس بې ددولت درئیس اوصدراعظم په خدمت کي ده.

انجنیرمسعود زیاته کړه چي د زه دي ته متوجه یم چي ځیني عناصر اوحلقي دوروستي بدلون په باب ښه نظر نلري ، اودغه په راتلو سره خپلي ګټي په خطر کي ویني، خوموږ قوي تصمیم نیولي چي ان شاالله دوحدت اواتحاد تجربه به بریالي کړو اوهیڅ‌ته به دخنډونو اوجنجالونو درامنځ ته کولو اجازه ورنکړو .»

محترم انجنیر مسعود پرکابل باندي دطالبانو داحتمالي برید په باره کي وویل چي وکه د طالبانو ولـه په کابل باندي دبرغل کولو غلطي وکړي نو لـه یوه عبرتناك درس اوانجام سره به مخامخ شي ،همداراز زموږ هیله ده چي طالبان په کابل باندي دتوغندیو اورولو لړي بنده کړي اوزموږ دصبر امتحان بس کړي ، که داسي ونکړي نوموږ دکابل ښار داوسیدونکو په دفاع باندي خپل ځانونه مکلف ګڼو .»

انجنیرهاشمي دښاراو

دندی په مخ بیولی دي.

انجنیروهاشمی» له ۱۳۵۷ هـ ش کال نه تر ۱۳٦٤کال پوری د حزب مالی رئیس ، بیا دو لایتونو د چارو رئیس وروسته د مهاجرینو د چارو رئیس ، وریسی د نظامی چارو رئیس ا وپروسږ د مالی امورو د رئیس په توګه وټاکل شو .

انجنیرهاشمي د پولیتخنیك د پوهنځی فارغ التحصیل او په خپله رشته کی‌د‌عملی تجربی خاوند د ی

د یو ه بل خبرله مخی سکندر قیام د کرهنی د وزارت د سرپرست په توګه وټاکل شو .

له کابل ښارڅخه د شهادت خبریال دعظمي صدارت د مطبوعاتی دفتر په حواله رپوټ راکوی چي سکندرقیام د عظمی صدارت په پیشنهاد د دولت د ریاست ترمنظوری وروسته د کرهنی د وزارت د سرپرست په توګه وټاکل شو .

انجنیر هلال

اسلامی کی بیلابیلی مهمی چاری لکه خارجی نظامی روابطو ، د پکتیاولایت امارت، د نظامی ریاست مرستیالي او سرپرستی په مخ بیولی دی او له ۱۳٦۹ هـ ش کال راهیسی د حزب د سیاسی چارو ریاست ور په غاړه دی .

انجنیر قطب الدین «هلال» زیاتریهرنیږهیوادونوته رسمی سفرونه کړی ، په بین المللی غونډو کی ئی برخی اخیستی او په انګریزی او اردو ژبو خبری کولا ی شی .

له قبره

تللوروسته زما دقبر ښی اړخ ته یوه کړکی پیدا شوه له هغی یه می داسی څه لیدل چی حسن‌او کیف یی په دنیا کی بیساری و،خوزما دا خوښی یه کله یوه بل ډول شوه ،زما دهدیری مرو ګاونډیانو کی ځینی لوی لوی ګناهکاران وو اودیته هلك یلك وم چی په دنیا کی خوبه خلکو ویل یو مری بل مری نه شي لیدلای . خو خدای ته هرڅه اسانه دی ښایی هغه ماته دخپل ارمان تحقق ښوده ما دیی ګناه انسانانو دقاتلانو عذاب ولید چی ډول ډول تعذیبیدل ، دهغو خلکو په قبرونو کی می د اور لمبی ولیدی چی ملی شتمنی یی لوټ کړی وی ، او یروخت می دیوه نا مشروع ایجنټ او دیرډیو دغلام دعذاب یوه ریرروونکی اومدهشه کړیکه واوریده نوله هیبته یی ما ،توپ کړ، دتوپ سره می سر په دیوال داسی ګلك ولګید چی درد یی زما سترګی له خوبه پرانیستی اوله قبره راووتم .

پاله – ۱۵ اگست ۱۹۹۳ (ازچپ به راست) راتکو ملادیچ سرقوماندان صربهای بوسنیا با رادوان کارادزیچ رهبر صربهای بوسنیا در جریان ملاقات با نمایندگان مطبوعات مجرا می کند ، دادگاه بین المللی جنایات جنگی درهاگ بتاریخ (۱۱) جولای فرمان بازداشت کارادزیچ وملادیچ را صادر نموده است .

سرسکا : بازرسان دادگاه بین المللی جنایات جنگی یوگوسلاویای سابق بقایای جسد انسانی را انتقال میدهند که از قبر جمعی درکنارهکده سرسکا واقع در (۶۵) کیلومتری توزلا منطقه صرب نشین بدست آمده است .
درین گورستان جمعی جسد (۱۵۵) انسان کشف شده که گمان میرود آنها در "سربنیکا" منطقه امن اعلان شده سازمان ملل متحد بدست صربها کشته شده ودرکنار جاده متروک خاکی دفن شده اند .